مؤسس: عبدالرووف بېنوا تأسیس کال: ۱۳۲۸ لمریز

هیواد
ورځپاڼه

شنبه | ۳ / صفرالمظفر / ۱۴۴۸ هـ ق | ۲۷ / چنګاښ / ۱۴۰۵ هـ ش | 2026/JULY/18 م | خصوصي ګڼه: ۸۸ مه | پرله پسې ګڼه: ۱۰۵۹ مه | دوره: اتمه

کابل کې د افغانستان او ایران د ګډې قونسلي کمېټې پنځمه غونډه ترسره شوه

د بهرنیو چارو وزارت اداري او مالي مرستیال دوکتور محمد نعیم او د ایران د بهرنیو چارو وزارت د قونسلي چارو مرستیال وحید جلال‌زاده په مشرۍ د دواړو هېوادونو د ګډې قونسلي کمېټې پنځمه ناسته ترسره شوه.

د بهرنیو چارو وزارت وایي، چې په یاده ناسته کې دواړو لوریو پر ستونزو، قونسلي خدمتونو او نورو موضوعاتو خبرې کړې او د ګډو ګټو په اړه یې نظرونه شریک کړي دي.

د یاد وزارت په وینا، دواړو لوریو ژمنه کړې، چې د شته ستونزو د حل، د همغږۍ د پیاوړتیا او د قونسلي همکاریو د پراختیا په موخه به په راتلونکي کې هم د ګډې کمېټې غونډې په منظم ډول دوام وموميِ.

افغانستان او ایران د اوږدې ګډې پولې، تاریخي او فرهنګي اړیکو له امله په سیاسي او اقتصادي برخو کې نږدې تعاملات لري. دواړه هېوادونه هڅه کوي چې د لوړپورې پلاوو د متقابلو سفرونو، ګډو کمېټو او دوامدارو خبرو اترو له لارې خپلې دوه اړخیزې اړیکې لا پیاوړې کړي او د ګډو ګټو په برخو کې همکاري پراخه کړي.

همدارازِ، د سوداګرۍ، ټرانزېټ، پانګونې، انرژۍ او د سرحدي تګ راتګ د اسانتیاوو پراختیا د کابل او تهران د اړیکو مهم محورونه بلل کېږي. د دواړو هېوادونو چارواکي باور لري چې د قونسلي همکاریو بڼه کېدل نه یوازې د دواړو هېوادونو د وګړو ستونزې کموي، بلکې د سیاسي باور د پیاوړتیا او اقتصادي اړیکو د لا پراختیا لپاره هم مناسب زمینه برابروي.

سرِ کال له بلخ څخه منځنۍ اسیا ته صادرات درې برابره زیات شوي

د بلخ د سوداګرۍ او پانګونې خونې مسؤلین وایي: د روان کال په لومړیو درېیو میاشتو کې له دې ولایته د څه باندې ۶۷ میلیونه ډالرو په ارزښت سوداګریز توکي بهرنیو بازارونو ته صادر شوي دي.

د مسؤلینو په خبره، دا کچه د تېر کال د همدې مودې د ۲۱ میلیونه ډالرو صادراتو پرتله څه باندې درې برابره لوړه شوې ده. غالی، کیلم، د قره قل پوستکي، تازه او وچې میوې د بلخ له مهمو صادراتي توکو دي، چې د سیمې بازارونو ته لېږدول کېږي. د بلخ د سوداګرۍ او پانګونې خونې اجرائیوي آمر، احمد شکیب اکبري وایي: «د تېر کال د لومړۍ ربعې ...

۳مخ

د افغانستان، ایران او تاجکستان ترمنځ د ځمکنۍ ټرانسپورټ درې‌اړخیز دهلیز جوړېږي

د افغانستان، ایران او تاجکستان ترمنځ د ځمکنۍ ټرانسپورټ د درې‌اړخیز ه دهلیز پر جوړېدو هوکړه شوې او ښایي د یادو هېوادونو توکي د افغانستان له لارې نورو هېوادونو ته ټرانزېټ او ولېږدول شي.

د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت خبرپاڼه کې راغلي ، چې د دغه وزارت د ځمکنۍ ټرانسپورټ قوانینو او معاهداتو رئیس یارمحمد رمضان د یوه پلاوي په مشرۍ د افغانستان، ایران او تاجکستان ترمنځ په درې‌اړخیزه ...

۳مخ

تورهان صالح؛ په افغانستان کې د یواېن‌ډي‌پي د نوي استازي په توګه دنده پیل کړه

د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام، چې تورهان صالح په افغانستان کې د دغه بنسټ د نوي استازي په توګه رسماً خپله دنده پیل کړې ده. یاد پروګرام په خپرپاڼه کې ویلي: صالح له دې کومارنې مخکې د دغه بنسټ د عربي هېوادونو سیمه‌ییز دفتر د لوړپوړي سلاکار په توګه دنده ترسره کوله او د ملګرو ملتونو د سولې ساتنې او خانګړو سیاسي ماموریتونو څخه د مسؤلیتونو د لېږد پر بهیر یې تمرکز درلود.د خبرپاڼې له مخې، نومورې د ۲۰۲۳ کال له دسمبر څخه د ۲۰۲۶ کال تر مارچ پورې د UNDP د بحران دفتر د مرستیال په توګه دنده ترسره کړې او په دې موده کې یې له بشري مرستو څخه دوامداري پراختیا ته د لېږد، د بحراني عملیاتو د مدیریت، د بحرانونو د تمویل او په دې برخه کې د پالیسۍ جوړونې پر چارو تمرکز کړی دی.

په خپرپاڼه کې راغلي، چې صالح له دې وړاندې هم د ۲۰۱۹ کال له مې میاشتې څخه د ۲۰۲۳ کال تر نومبر پورې په ایتوپیا کې د UNDP د استوګن استازي په توګه ...

۳مخ

افغانستان او برونای د دوه اړخیزو اړیکو او همکاریو پر پراختیا خبرې کړې

په مالیزیا کې د افغانستان د سفارت سفیر نقیب‌الله احمدي د برونای دارالسلام د بهرنیو چارو وزارت د آسیا او افریقا څانګې له رئیس سره په لیدنه کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړیکو پر پیاوړتیا او د همکاریو پر پراختیا ټینګار کړی. د دغې لیدنې پر مهال دواړو لوریو د افغانستان او برونای دارالسلام ترمنځ د سیاسي، اقتصادي، فرهنګي او تحصیلي همکاریو د لا پراختیا په اړه هر اړخیزې خبرې کړې او د ګډو همکاریو د پیاوړتیا لپاره یې پر عملي لارو چارو بحث او د نظرونو تبادله کړې ده. همداراز ټینګار شوی، چې د دواړو هېوادونو ترمنځ موجودې دوستانه اړیکې باید لا پراخې او په ېلابېلو برخو کې د متقابلو ګټو پر بنسټ همکاري ...

۳مخ

بلخ کې د کشندې - پل‌برق سړک د جوړولو چارې روانې دي

د ټولګټو وزارت وایي، چې د بلخ د کشندې ولسوالی د کشندې - پل برق ۱۸ کیلومتره سړک د جوړولو پروژې چارې پیل شوې دي. د دغه وزارت ویاند، محمد اشرف حق‌شناس په اېکس‌پاڼه لیکلي، چې دا پروژه د ټولګټو وزارت له لورې له یو ساختماني او سړک‌جوړونې شرکت سره لاسلیک قرارداد شوې ده د خبرپاڼې له مخې، چې اوس مهال د دې سړک د جوړولو چارې ۲۵ سلنه بشپړې شوي. د سرچینې په وینا: "یاد سړک د کشندې ولسوالي مرکز اړوند ...

۳مخ

برېتانیا په راتلونکو درېیو کلونو کې له افغانستان سره ۳۱۵ میلیون پونډه مرسته کوي

د برېتانیا د بهرنیو چارو وزارت اعلان کړی، چې په راتلونکو درېیو کلونو کې به د افغانستان د خلکو د ملاتړ لپاره ۳۱۵ میلیون پونډه خانګړي مرسته د افغانستان د خلکو د ملاتړ لپاره په راتلونکو درېیو کلونو کې برابره کړي.

ده څرګنده کړې، چې دغه مرستې به هر کال ۱۰۵ میلیون پونډه د نړیوالو سازمانونو له لارې او د حیاتي اړتیاوو پوره کولو پر تمرکز ولګول شي.

نومورې زیاته کړې: «برېتانیا به په راتلونکو درېیو کلونو (۲۰۲۶ تر ۲۰۲۹) کې هر کال ۱۰۵ میلیون پونډه د افغانستان د خلکو د ملاتړ لپاره ورکړي. افغانستان به په دې موده کې د برېتانیا د رسمي پراختیایي مرستو (ODA) له سترو ...

۳مخ

د چاپېریال ساتنې اداري او «EPTDO» موسسې ترمنځ د ګډې همکارۍ هوکړه لاسلیک شو

د چاپېریال ساتنې عمومي اداري خبر ورکړی، چې یادې اداري د چاپېریال ساتنې، زده‌کړو او پراختیا موسسې سره د څه باندې ۱۵۰ زره امریکایي ډالرو په ارزښت د ګډې همکارۍ هوکړه لاسلیک کړې ده.

د خبرپاڼې له مخې چې د دې پروژې ټولټال ارزښت ۱۶۲زره امریکایي ډالره دی، چې د درېو کلونو په موده کې به د اقلیمي بدلون او چاپېریال ساتنې په برخه کې د هېواد په ېلابېلو ولایتونو کې پلي شي.سرچینې لیکلي، چې د دې پروژې د فعالیتونو له مخې به کابل او ننګرهار ولایتونو کې ۲۰۰ کورنۍ بنسټونه وارزول شي، له هغو څخه به ۴۵ بنسټونه وټاکل شي او د اقلیم بدلون او چاپېریال ساتنې په برخه کې به ورته روزنیز پروګرامونه وشي. د چاپېریال ساتنې عمومي اداري همداراز لیکلي چې د دې ترڅنګ پنځو ولایتونو کې د چاپېریال ساتنې رضاکاره ډلې جوړې او د هغوی ملاتړ به هم د یادې پروژې مهمې برخې وي.

د زابل مسئولینو په دغه ولایت کې د روغتیایي ټیمونو د زیاتوالي غوښتنه وکړه

د افغانستان اسلامي امارت د عامې روغتیا وزیر مولوي نور جلال جلالي، د زابل له والي ملا شېر محمد شریف او د دغه ولایت د عامې روغتیا له رئیس ډاکټر میرویس افغان سره کتلې دي.

د عامې روغتیا وزارت په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي، چې په دې کتنه کې د زابل د عامې روغتیا رئیس، د دغه ولایت د روغتیایي وضعیت، شته ستونزو او ارتیاوو په اړه هر اړخیز معلومات ورکړل او د ماشومانو د روغتیایي ستونزو راکمولو او د خدمتونو د پراختیا په موخه یې د روغتیایي ټیمونو د زیاتوالي غوښتنه وکړه؛ څو ارمنو خلکو ته پر وخت روغتیایي خدمتونه وړاندې شي.

دغه راز، د زابل والي د عامې روغتیا وزارت له پروګرامونو او هڅو د ملاتړ ترڅنګ؛ د روغتیایي خدمتونو د بڼه والي ...

۳مخ

سرلیکنه

افغانستان؛ د امن او ثبات نوې څېره

امنیت د هر هېواد د بقا، پرمختک او اقتصادي ودې تر ټولو مهم شرط دی. کله چې په یوه هېواد کې سراسري ثبات موجود وي، خلک په ډاډه زړه ژوند کوي، سوداګر پانګونه کوي، لوبې پروژې عملي کېږي او د سیمې هېوادونه هم له هغه هېواد سره د همکاریو لپاره زړه بڼه کوي. افغانستان نن د همدې مرحلې تجربه کوي؛ داسې مرحله چې د اوږدو جګړو له پای وروسته یې د هېواد په هېرو برخو کې د ارامې فضا رامنځته کړې ده. د اسلامي امارت ویاند، مولوي ذبیح الله مجاهد، د روسیې د بهرنیو چارو وزیر د وروستیو خرکندونو په غبرګون ویلي چې داعش خوارج په افغانستان کې په بشپړه توګه ځپل شوي دي او د سیمې هېوادونه باید په دې اړه هېڅ اندېښنه ونه لري. نومورې ټینګار کړی چې امنیتي ځواکونه د هېواد پر ټولو سیمو بشپړ کنټرول لري او دا مهال داعش په افغانستان کې هېڅ فزیکي حضور نه لري. الحمدلله، د افغانستان امنیتي ځواکونه د هېواد د امنیت د خوندي کولو ترڅنګ د سرحدونو ساتنې ته هم په بشپړ ډول متوجه دي. هره هغه هڅه چې د افغانستان له خاورې د بل هېواد پر ضد د ناامنۍ د رامنځته کولو لامل شي، د مخنیوي لپاره یې جدي تدابیر نیول شوي دي. همدا وضعیت د دې سبب شوی چې افغانستان د سیمې لپاره د ګواښ پر ځای د ثبات د یوه مسئول لوري په توګه خپل دریځ څرګند کړي. له همدې امله مناسبه نه ده چې افغانستان د هغو تورونو هدف وګرځي چې ګواکې دلته غیرقانوني وسلهوالي ډلې فعالیت لري او یا د نورو هېوادونو امنیت ته ګواښ پېښوي. که کوم هېواد د خپل امنیت په اړه اندېښنه لري، غوره ده خپلې خاورې، خپلو سرحدونو او خپلو امنیتي تدابیرو ته پاملرنه زیاته کړي. افغانستان د خپلې خاورې د امنیت مسئولیت پر غاړه اخیستی او په دې برخه کې یې خپل دریځ په څرګندو ټکو بیان کړی دی.

د سراسري امنیت تر ټولو لویه ګټه اقتصادي برخه ده. هغه پانګه چې پخوا د جګړو او ناامنۍ له امله له افغانستان څخه وتله، نن د هېواد دننه د صنعت، سوداګرۍ او تولید پر لور روانه ده. کورنۍ سوداګر خپلې فابریکې پراخوي، نړیوال نندارتونونه جوړېږي، سوداګریز ټرونونه لاسلیک کېږي او د سیمې له هېوادونو سره اقتصادي اړیکې مخ په پراخېدو دي. دا هر څه د امنیت مستقیمه پایله ده، ځکه پانګونه تل د ثبات په فضا کې وده کوي.

افغان ځوانان هم د هېواد د امنیت په ساتنه کې مهم رول لري. د امنیتي ځواکونو ترڅنګ د خلکو همکاري، د قانون درناوی او د وړانکارو فعالیتونو پر وړاندې هوښیارتیا هغه عوامل دي چې د هر ډول تخریبي هڅو مخه نیسي. د همدې ګډ مسئولیت له امله نن د هېواد په هېرو برخو کې د عادي ژوند، سوداګرۍ او سفر زمینه برابره شوې ده. افغانستان نن د داسې امنیت څښتن دی چې د سیمې ګڼ هېوادونه یې د رامنځته کولو لپاره هڅې کوي. د بنارونو، لویو لارو او ولایتونو ترمنځ د خلکو ازاد تګ راتګ، د اقتصادي فعالیتونو دوام او د دولتي ادارو عادي فعالیت د همدې ثبات څرګندې نښې دي. ان‌شاءالله، د دې امنیت په دوام سره به اقتصادي وده نوره هم چټکه شي، پانګونه به زیاته شي او افغانستان به د سیمې د یوه باثباته او خوندي هېواد په توګه خپل دریځ لا پیاوړی کړي.

د ديني تراث د مفاهيمو جيوپوليټيکي کارونه

پروفيسور ډاکټر عبيدالله برهاني

د «غزوة الهند» او «خوارجو» د مفهومونو علمي، تاريخي او ستراتيژيک تحليل سريزه

په معاصره جيوپوليټيکي فضا کې، مذهبي نصوص، ديني اصطلاحات او تاريخي روايتونه کله ناکله له خپل اصلي تاريخي، فقهي او تشريحي سياق څخه جلا کېږي او د سياسي بسيج، هويتي شخړو او ستراتيژيکو موخو لپاره د تعبئې د وسيلو په توګه کارول کېږي. د ديني مفاهيمو دا ډول سياسي کول (Politicization of Religion) او ابزاري کول يوازې د دولتونو ترمنځ جيوپوليټيکي رقابتونو پورې محدود نه دي؛ بلکې د کورنيو سياسي جوړښتونو، د مشروعيت د توليد، د واک د توجيه او د مخالفو افکارو د تعريف او مديريت په پروسو کې هم مهم رول لوبوي. د ديني تراث د سياسي استعمال د مطالعې لپاره د «غزوة الهند» او «خوارجو» مفاهيم دوه مهمې قضيې وړاندې کوي: د «غزوة الهند» مفهوم: په ځينو معاصرو جريانونو کې د سيمه‌ييزو شخړو د مذهبي مشروعيت، د جنګي بسيج او د ايډيالوژيکي جذب د وسيلې په توګه مطرح شوی دی. د «خوارجو» کلاسيکه اصطلاح: په اسلامي فکري تاريخ کې د يوه ځانګړي عقيدوي، فقهي او سياسي جريان لپاره کارول شوې وه؛ خو په ځينو معاصرو سياسي شرايطو کې کله ناکله د هر ډول مخالفت، اعتراض يا بديل فکر د ردولو لپاره پراخه شوې ده. دغه مقاله د علمي نقد او تاريخي تحليل له زاويې هڅه کوي چې وخېړي: ديني نصوص څنګه د خپل اصلي سياق څخه د جلا کېدو په صورت کې نوې سياسي معناوې پيدا کوي؟ او څنګه تاريخي اصطلاحات د معاصر قدرت، هويت او امنيتي سياستونو په ډګر کې بيا تعبيرېږي؟ لومړی: د حديثي نقد منهج؛ د معتبره نصوصو او ملاحمي روايتونو ترمنځ توپير په حديثي علومو کې ټول روايتونه د اعتبار له پلوه يو شان نه دي. د «غزوة الهند» په څېر موضوعاتو کې بايد د دوو ډولو روايتونو ترمنځ تفکيک وشي: ۱- د هند د فتوحاتو په هکله روايتونه کله چې د هند د فتوحاتو اړوند روايتونه د حديثي نقد په تله وتلل شي، نو له دوو ډوله متونو سره مخ کېږو: أ- معتبر او ثابت نصوص: هغه روايتونه چې د حديثي معيارونو له مخې د قبول وړ دي؛ لکه د رسول الله ﷺ د مولي حضرت ثوبان رضي الله عنه روايت: «عِصَابَتَانِ مِنْ أُمَّتِي أَحْرَزَهُمَا اللهُ مِنَ النَّارِ: عِصَابَةٌ تَغْزُو الْهِنْدَ، وَعِصَابَةٌ تَكُونُ مَعَ عِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ...» (رواه النسائي وأحمد) ژباړه: «زما د امت دوې ډلې داسې دي چې الله جل جلاله هغوی له اور څخه ژغوري: يوه هغه ډله ده چې هند ته غزا کوي، او بله هغه ډله ده چې له عيسی ابن مريم عليه السلام سره ملګرې وي.» دا روايت د غيبي خبرونو په چوکاټ کې راځي، خو په متن کې يې ملاحمي مبالغه, افسانوي جزئيات او ډراماتيک تفصيلات نه ليدل کېږي. ب- کمزوري، مضطرب او ملاحمي روايتونه: هغه روايتونه چې په اړه يې پراخ داستاني جزئيات او ملاحمي انځورونه وړاندې کېږي (لکه د پاچاهانو نيول، زنځيرونه او ځانګړې ننبۍ)، د جدي ارزونې اړتيا لري. دغه ډول روايتونه په ځانګړې توګه د فتن او ملاحمو په ادبياتو کې مونديل کېږي، لکه د نعيم بن حماد په کتاب الفتن کې. د حديثي علومو د اصولو له مخې، دا ډول روايتونه د قوي علمي استدلال او سياسي يا ستراتيژيکو پروژو لپاره بنسټ نشي کېدای.

۲- د خوارجو په هکله د حديثي نصوصو علمي توثيق د خوارجو د پديدې په اړه په صحيح البخاري او صحيح مسلم کې ګڼ معتبر روايتونه نقل شوي دي. له مشهورو نصوصو څخه يو دا دی: «يَمْرُقُونَ مِنَ الدِّينِ كَمَا يَمْرُقُ السَّهْمُ مِنَ الرَّمِيَّةِ» ژباړه: «دوی له دين څخه داسې وځي لکه غشی چې له ښکار څخه وځي» (صحيح البخاري، حديث: ۷۵۶۲؛ صحيح مسلم، حديث: ۱۰۶۴) دغه حديثي نصوص د خوارجو پديده د يوه ځانګړي فکري او منهجي انحراف په توګه تشخيصوي. په دغو روايتونو کې د هغوی اساسي ځانګړنې په لاندې ډول بيان شوې دي: «حُدَثَاءُ الأَسْنَانِ، سُفَهَاءُ الأَوْثَانِ»: کم‌عمره او د کمزوري درک خاوندان (صحيح البخاري، حديث: ۵۰۲۷). «يَقْتُلُونَ أَهْلَ الإِسْلَامِ وَيَدَعُونَ أَهْلَ الأَوْثَانِ»: د مسلمانانو وينې تويوي او نور پرېږدي (صحيح البخاري, حديث: ۳۳۴۴). «يَقْرَءُونَ الْقُرْآنَ لاَ يُجَاوِزُ حَنَاجِرَهُمْ»: قرآن لولي، خو د هغه ژور فهم او عملي درک يې نه رسي (صحيح مسلم، حديث: ۱۰۶۶). دويم: تاريخي انتروپولوژي؛ د پخوانيو واقعيتونو او معاصرو اسقاطاتو ترمنځ توپير ۱- د هند فتوحات: د روايت، تاريخ او معاصر تعبير ترمنځ تحليل امام ابن کثير دمشقي (۷۷۴هـ) په خپل مشهور اثر «البداية والنهاية» کې د هند د سيمو د فتحو يادونه د اسلامي تاريخ د واقعي بهير په چوکاټ کې کوي: د هند پر لور د مسلمانانو حرکتونه د اموي دورې له لومړيو هڅو سره پيل او د محمد بن قاسم الثقفي په ۹۳ هجري کال کې د سند د فتحې له لارې مهم پراو ته ورسېدل. وروسته د غزنوي دورې په ترڅ کې د سلطان محمود غزنوي لښکرکښيو د هند په شمالي سيمو کې د مسلمانانو سياسي حضور نور هم پراخ کړ. له همدې امله، د «غزوة الهند» روايت يوازې د راتلونکې زمانې د يوې نامعلومې پېښې په توګه تعبيرول د تاريخ له واقعيت سره سمون نه لري. په عربي ژبه کې د «واو» حرف عموماً د مطلق جمع لپاره کارېږي او لازمه نه ده چې د زماني ترتيب يا يوازې د راتلونکې زمانې معنا ورکړي. ۲- خوارج: د لومړني اسلامي تاريخ يو سياسي ـ فکري جريان خوارج د اسلامي تاريخ له لومړنيو جريانونو څخه دي چې لومړنی ظهور يې د حضرت علي رضي الله عنه او حضرت معاويه رضي الله عنه ترمنځ د صفين جګړې (۳۷هـ) وروسته د تحکيم (منځګړيتوب) پر مهال رامنځته شو او د «لا حکم إلا لله» شعار يې پورته کړ. حضرت علي رضي الله عنه له هغوی سره يوازې نظامي چلند ونه کړ، بلکې: ۱. لومړی يې د علمي بحث او مباحثې لپاره عبدالله بن عباس رضي الله عنهما ورولېږه. ۲. د هغوی لپاره يې واضح اصول وټاکل او ويې فرمايل: «ستاسې درې حقونه پر موږ دي: دا چې تاسو د الله له جوماتونو منع نه کړو، ستاسو برخه له بيت المال څخه بنده نه کړو، او تر هغه چې فساد مو نه وي کړی جګړه درسره نه پيلوو.» د صحابه‌وو په تعامل کې خوارج په مطلق ډول د کفر په عنوان نه پېژندل کېدل، بلکې د يوه منحرف او باغي فکري جريان په توګه ورسره چلند کېده چې مهمې ځانګړنې يې د نصوصو سطحي فهم، د کبيره ګناهونو له املې د مسلمانانو تکفير، او د مخالفينو د وينې حلال ګڼل وو (لکه د عبدالله بن خباب بن الأرت رضي الله عنه د شهادت پېښه). درېيم: د معاصر تسييس (سياسي کارونې) جيوپوليټيک او د هغې خطرونه ۱- بهرنی سياسي کارونه: د «غزوة الهند» جيوپوليټيکي کارونه د «غزوة الهند» مفهوم په معاصر وخت کې د ځينو افراطي جريانونو (په ځانګړي ډول په پاکستان او کشمير کې) له خوا کارول شوی، ترڅو د کشمير مسئله يا د هند او پاکستان ترمنځ سياسي او سرحدي شخړې ته د يوې «مقدسې جګړې» قالب ورکړي. مقابل اړخ (د هندوتوا افراطي خطاب): په مقابل لوري کې، په هند کې د «هندوتوا» ځينې افراطي جريانونه د دغه ډول راديکال تعبيرونو څخه په ګټنې، د مسلمانانو د مذهبي او تاريخي حضور په اړه د وېرې او شک فضا رامنځته کوي او ټول مسلمان اقليت د يوه واحد سياسي او امنيتي ګواښ په توګه انځوروي. ۲- داخلي تسييس (سياسي کيدنه): د «خوارجو» د اصطلاح سياسي استعمال په معاصر سياسي ډګر کې، ځينې استبدادي سياسي نظامونه د «خوارجو» نوم د دې لپاره کاروي چې خپل سياسي مخالفين، اصلاح غوښتونکي، يا حتی سوله ييز منتقدين د ديني مشروعيت له ساحې بهر وښيي. په دې ډول، يوه تاريخي ـ فقهي اصطلاح د سياسي مخالف د بدنامولو او ځپلو لپاره په يوه تبليغاتي وسيله بدلېږي. ځلورم: ذهني انجيزي، پنځم نسل جګړې او نيابتي شخړې د ديني تراث د سياسي تسييس موضوع له جيوپوليټيک ادراکي امنيت او پنځم نسل جګړو سره مستقيم تړاو لري: په پنځم نسل جګړو کې د جګړې اصلي ډګر د انسان ذهن دی. د «غزوة الهند» او «خوارجو» په څېر مفاهيم د ټولنيز ادراک د اغېزمنولو، سياسي نفوذ، ټولنيز بسيج او نيابتي شخړو د پياوړتيا لپاره کارول کېږي. له همدې امله د اصيل ديني تراث او معاصرو سياسي تعبيرونو ترمنځ روښانه توپير د ادراکي امنيت لپاره حياتي دی.

پايله

د «غزوة الهند» او «خوارجو» د مفاهيمو علمي او ستراتيژيک تحليل دا روښانه کوي چې د ديني نصوصو او تاريخي اصطلاحاتو جلا کول له خپل اصلي فقهي او تاريخي سياق څخه، د هغو د سياسي ابزاري کېدو (تسييس) سبب ګرځي. علمي او تاريخي منهج دا غوښتنه کوي چې ديني مفاهيم د خپل اصلي نصي، تاريخي او فقهي چوکاټ په دننه کې وڅېړل شي. د ديني تراث درناوی دا نه دی چې هغه د سياسي اهدافو تابع کړو، بلکې دا دی چې د هغه اصلي معنا او معاصر استعمالونه په انتقادي او متوازن ډول تحليل کړ.

مهم ماخذونه: ۱- امام بخاري (صحيح البخاري)، ۲- امام مسلم (صحيح مسلم)، ۳- امام نسائي (سنن النسائي)، ۴- ابن کثير (البداية والنهاية / الفتن والملاحم)، ۵- نعيم بن حماد (کتاب الفتن)، ۶- بهادر شاه کاکاخيل (پښتانه د تاريخ په رڼا کې)، ۷- احمد علي کهزاد (افغانستان د تاريخ په رڼا کې)، ۸- ډاکټر عبيدالله برهاني (د ديني مفاهيمو جيوپوليټيکي کارونه)، ۹- د علومو اکاډمي (د افراطيت د پديدې ارزونه)، ۱۰- فرانسوا بورګاټ (Face to Face with Political Islam)، ۱۱- اوليويه روا (The Failure of Political Islam)، ۱۲- ستيفن کوهن (The Idea of Pakistan)، ۱۳- مايکل باراک The Myth of Ghazwa-e-Hind)، ۱۴- جيسن برک (Al-Qaeda: Casting a Shadow of Terror

که علما، مطبوعات . . .

وغوښتل، چې يو موتی شي او زياته يې کړه، که دا دري قشرونه سره متحد وي، دښمن به نه درز پيدا کړای شي او نه به خپل پلانونه عملي کړای شي.ښاغلي حنفي همدارنګه وويل: په اسلام کې که څوک تېروتنه وکړي، لومړی ورسره په اخلاقي او تربيوي ډول چلند کېږي او که بيا هم خپلې کړنې تکرار کړي، نو له قانون سره مخ کېږي. د ده په وينا، دا خانګړنه يوازې اسلام لري.د ياد وزارت د شکايتونو اوربدلو مرستيال، مولوي صديق الله له کډونوالو وغوښتل، چې د وزارت له فعاليتونو سره همکاري وکړي او د غوندې پيغامونه خپلو سيمو ته ورسوي.نومورې وويل، تمه لري چې خلک به د پخوا په څېر له وزارت سره همکاري وکړي او د ټولنې د اصلاح په برخه کې خپل مسؤليت ادا کړي. د ده په وينا: د اسلامي امارت له بيا واکمنېدو مخکې په ښارونو کې وضعيت مناسب نه و؛ خو اوسنی بدلون د دې وزارت د ترسره شويو هڅو پايله ده. ده زياته کړه، چې وزارت په يوازې ځان خپلې موخې نه شي ترلاسه کولی او د ولس، رعيت، علماوو، استادانو، انجينرانو او مبلغينو همکاری ته اړتيا لري، ځو د ټولنې د اصلاح او د اسلامي ارزښتونو د پياوړتيا چارې لا اغېزمنې شي. غونډه کې د کابل د علماوو په استازيتوب محمد اسماعيل حنفي ويل چې علما دې له ځوانانو سره د علمي او اصلاحي مجلسونو جوړولو ته خانګړې پاملرنه وکړي. هغه د ياد وزارت له محتسبينو وغوښتل چې د ټولنيزو رسنيو د پراخ نفوذ لپاره په خپلو چلندونو کې دېر احتياط وکړي، ځکه د هغه په وينا، په ټولنيزو رسنيو کې يوه وړه موضوع هم لويه او يوه لويه موضوع هم کوچنی ښودل کېدای شي.په پای کې د بامياني، پروان، پنجشېر، کابل، ميدان وردګو او دايکندي ولايتونو قومي مخورو، علماوو او د مطبوعاتو مسوولينو هم خپلې ويناوې وکړې. دوی ټينګار وکړ چې د کليو ملکان بايد له تعليم يافته او ديني علماوو څخه د ټاکل شي او د ماشومانو فکري روزنې او اصلاح ته خانګړې پاملرنه وشي. د هغوی په وينا، په لرې پرتو سيمو کې دې د کتاب لوستلو سيالی ترسره او په ولايتونو کې دې عامه کتابتونونه جوړ شي، ځو د مطالعې فرهنګ او فکري اصلاح پراختيا وموميږي. د مطبوعاتو مسوولينو وويل چې افغاني رسنيو د امربالمعروف په برخه کې خپل مسوليت ادا کړی او په دې برخه کې يې پراخ پوهاوی خپور کړی دی. هغوی له ياد وزارت وغوښتل چې خپلې لاسته راوړنې او فعاليتونه په مستندو معلوماتو او اسنادو ورسره شريک کړي، ترڅو رسنی وکولای شي هغه په دقيق او باوري ډول له هېوادوالو سره شريکې کړي.

تاج محمد بهار

د خوست په تنيو . . .

روغتون به له ۱۴ تر ۱۸ مياشتو موده کې بشپړ او کتې اخيستنې ته به وسپارل شي.

د ټولو روغتيا وزارت د روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو مرستيال د دغه پروژې پلي کېدل د تنيو ولسوالي د اوسېدونکو لپاره روغتيايي خدمتونو ته د لاسرسي د پراختيا، د لومړنيو روغتيايي اړتياوو د پوره کولو او د معياري خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې مهم ګام وباله.

نومورې وويل:«په لرې پرتو ولسوالیو کې د دا ډول روغتونونو جوړول د روغتيايي خدمتونو کچه لوړوي او خلکو ته د باکيفيته، پر وخت او معياري درملنې زمينه برابروي.»

حقاني زياته کړه، چې د عامې روغتيا وزارت ژمن دی، ځو د هېواد په ټولو سيمو کې خلکو ته باکيفيته او عادلانه روغتيايي خدمتونه وړاندې کړي او د روغتيايي خدمتونو د لا ښه والي او د درملنې د معيارونو د پياوړتيا لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکړي.

د کليو د بيارغونې . . .

د کليو د بيارغونې او پراختيا وزير هم په خپلو خبرو کې ويلي دي: ((د ولس حق دی چې موږ ورته په هره برخه کې خدمات وړاندې کړو او د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت د هېواد ټولو ولايتونو ته په خانګړې توګه محرومو او له اسانتياوو څخه لرې سيمو ته خانګړې پاملرنه کوي.))

چين به د مصنوعي . . .

او ويلي يې دي چې ښجينګ چمتو دی خپله ټکنالوجي او پوهه د نړۍ له سوېلي هېوادونو سره شريک کړي او د دې ټکنالوجی د نړيوالو معيارونو په جوړولو کې ونډه واخلي.

د راپور له مخې، شي جين‌پينګ د «مصنوعي خيرکتيا د نړيوالې همکاری سازمان» (WAICO) د جوړېدو خبر هم ورکړی چې ۲۹ هېوادونه به يې غړي وي او دا يې د مصنوعي خيرکتيا د نړيوالې پراختيا لپاره مهم ګام بللی دی.

د يادونې ده، د مصنوعي خيرکتيا نړيوال کنفرانس د جولای له ۱۷مې تر ۲۰مې په شانګهای کې جوړېږي. د ملګرو ملتونو سرمنشي انتونيو کوټرېش، د قزاقستان ولسمشر قاسم ژومارت توکايف او د ټايلنډ لومړي وزير انوټين چارنويراکول د دغه کنفرانس له کډونوالو څخه دي.

امريکا د بهرنيو . . .

شوې؛ خو د دغو ويزو لرونکي کولای شي د خپلې استوګنې مودې له پای ته رسېدو مخکې د تمديد غوښتنه وکړي. دغه محدوديت د هانګ کانګ او مکاو خبريالان نه رانغاړي.

د راپور له مخې، تر دې مخکې بهرنيو محصلان، د کلتوري تبادلې پروګرامونو کډونوال او بهرني خبريالان د «د وضعيت د اعتبار مودې» (Duration of Status) په نوم نظام له مخې، تر هغه چې د خپلې ويزې شرايط يې ساتل، له ټاکلې نېټې پرته په امريکا کې پاتې کېدای شول.

د راپور پر بنسټ، د امريکا د کورنيو امنيت وزارت ويلي چې د دغو کسانو لپاره د استوګنې د ثابتې مودې ټاکل به پر ويزه لرونکو ځانګړه ډېره کړي او د کډوالی له نظام څخه د احتمالي ناوړه ګټې اخيستنې مخه به ونيسي.

د دغو مقرراتو له مخې، هغه کسان چې د خپلو زده‌کړو د بشپړولو يا د خپلې دندې د دوام لپاره ډېر وخت ته اړتيا لري، بايد د امريکا له دننه د خپلې استوګنې د وضعيت د غځولو غوښتنه وکړي.

افغان اعلانات

اطلاعیه دعوت به داوطلبی

پوهنتون لوگر از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی باز پروژه تهیه و تدارک گاز مایع مورد ضرورت پوهنون لوگر اشتراک نموده و نقل چاپ شده شرطنامه مربوط را در مقابل پرداخت مبلغ ۵۰۰ افغانی از مدیریت محترم عمومی تدارکات پوهنتون لوگر واقع شیردروازه، مقابل کارته ماموربن،شهر پل علم، ولایت لوگر بدست آورده آفر های خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه،طبق قانون عقود تدارکات و طرزالعمل تدارکات طور سر بسته بعد از تاریخ نشر الی مدت ۱۰ روز تقویمی به مدیریت محترم عمومی تدارکات پوهنتون لوگر ارایه نمایند، آفرهای ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی باشد. و جلسه آفرگشایی در تالار مقام ولایت لوگر تدویر می گردد.۳۶۴۹

د داوطلبی اعلان

موضوع: د ښاروالۍ مخې ته د کوڅې کانکریت اچونه پروژې د قرارداد د داوطلبۍ اعلان.

د کابل ولایت د قره باغ ولسوالۍ ښاروالۍ له ټولو وړ او شرایطو پوره کوونکو داوطلبانو ته بلنه ورکوي چې د ښاروالۍ مخې ته د کوڅې کانکریت اچونې پروژې کې ګډون وکړي غوښتونکي کولای شي چې د شرطنامې کاپۍ د (۱۰۰۰) زرو افغانیو په بدل کې تر لاسه کړي او خپل آفرونه د شرطنامې د مندرجو شرایطو مطابق په مهر او تړليډول د اعلان له خپریدو وروسته تر (۲۱) تقویمي ورځو پورې د آفر پرانیستې غونډې ته وسپاري .

هغه افرونه چې نا وخته ورسیږي یا د انټرنیټ له لارې وړاندې شي ، د منلو وړ نه دي.

د آفر پرانیستې غونډه به د اعلان له خپریدو (۲۱) ورځې وروسته ، د کابل ولایت مقام په تالار کې ، چې د صدرات څلور لارې کې موقعیت لري تر سره شي ۳۶۴۸

اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدین‌وسیله به تأسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده می‌شود، ریاست اجرائیوی شرکت امارتی آبرسانی و فاضلاب شهری درنظر دارد، قرارداد پروژه تدارک وانتقال ٤٤١٨ کیلوگرام کلورین ٦٥ الی ۷۰ فیصد مورد ضرورت زون های ششگانه آبرسانی بشمول ریاست آبرسانی شهرزرنج. خویش راکه تحت شماره داوطلبی. UWASS-SOC/1405/NCB/W/012می باشد را با شرکت تجارتی ولوژستکی گلاب الدین خانزاده دارندۀ جواز شماره ١٤١٩٥ آدرس: نجیب زراب مارکیت قوای مرکز شهرکابل، را به قیمت مجموعی مبلغ ۱,۰۸۲,٤۱۰ یک میلیون وهشتادو دو هزارو چهارصدو ده افغانی پروژه متذکره اعطاء نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هر گونه اعتراض در زمینه داشته باشند، می‌توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی پنج روزکاری طور کتبی توأم با دلایل آن به ریاست اجرائیوی شرکت امارتی آبرسانی و فاضلاب شهری واقع سرتپۀ کارته نو ناحیه هشتم شهر کابل؛ وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارائه نمایند. این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

اعلان

موضوع: اعلان پروژه مواد لابراتواری و تجهیزات طبی ضرورت دیپارتمنت های تدریسی؛ ریاست پوهنتون علوم طبی کابل» ابوعلی ابن سینا» بابت سال مالی ۱٤۰۵.

ریاست پوهنتون علوم طبی کابل»ابوعلی ابن سینا» از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در پروسه داوطلبی باز؛ پروژه مواد لابراتواری و تجهیزات طبی ضرورت دیپارتمنت های تدریسی؛ ریاست پوهنتون علوم طبی کابل» ابوعلی ابن سینا» بابت سال مالی ۱٤۰۵، اشتراک نموده و نقل شرطنامه را از تاریخ نشر اعلان الی ۱۳ روز تقویمی از آمریت تدارکات؛ ریاست پوهنتون علوم طبی کابل» ابوعلی ابن سینا»در اوقات رسمی بدست آورند. شرطنامه متذکره را مطالعه و آفرخویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و قانون عقود طور سربسته ارایه نمایند. آفرهای ناوقت رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمی باشد.جلسه آفرگشایی به روزتعین شده مندرج شرطنامه ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر، درتالار جلسات سید عبدالقادر بها واقع این ریاست برگزار میگردد.۳۶۸۷

اطلاعیه لیلام

موسسه تغییر در نظر دارد به تعداد ۲۶ قلم اجناس استهلاک شده را از طریق پروسه لیلام به فروش برساند. اشخاص و شرکتهایکه خواهش خریداری آنرا داشته باشند به تاریخ ۱۴۰۵/۵/۱۵ روز دوشنبه ساعت نه قبل از ظهر به مقر موسسه OTSSO مراجعه نمایند پول تضمین ۱۵ فیصد قبل از شروع داوطلبی نقدا اخذ می گردد. آدرس بین چهار راهی سر سبزی و لب جر جهت معلومات مزید به شماره تماس : ۰۷۸۴۸۸۳۵۴ به تماس شوند.۳۷۰۵

اطلاعیه لیلام

به تعداد ۲۵ عراده وسایط داغمه مختلف النوع ریاست تنظیف،تحت نظر هئیات موظف به بلند ترین نرخ به نفع امارت اسلامی افغانستان در معرض لیلام قرار داده می شود، شرکت ها، سازمان ها و اشخاص انفرادی که خواهش اشتراک در پروسه داوطلبی را داشته باشند، می توانند به تاریخ ۱۴۰۵/۵/۱۰ ساعت ۹ بجه قبل از ظهر به ریاست تنظیف شاروالی محترم کابل واقع چهار راهی سر سبزی مقابل هوتل شام پاریس مربوطه ناحیه چهارم تشریف آورده، پانزده فیصد تضمین قبل از آغاز پروسه لیلام از سر جمع قیمت نقدا اخذ می گردد.۳۶۶۱

اطلاعیه فسخ جواز رهنمای معاملات

جواز شماره (۳۰۷۰) مورخ ۱۴۰۲/۸/۴ رهنمای معاملات محمد شمس هاشمی واقع پروان سوم ناحیه ۴ شاروالی کابل به نام محمد شمس فرزند محمد یونس قابل لغو می باشد. که بعد از نشر اعلان رهنمای مذکور فاقد اعتبار قانونی بوده هر گاه ادارات دولتی و اشخاص انفرادی بالای موصوف ادعای حقوقی به ارتباط فعالیت جواز مذکور داشته باشند بعد از نشر اعلان الی مدت یک هفته به ریاست عمومی انسجام ، وزارت عدلیه اطلاع دهند.۳۶۷۴

اطلاعیه تغییر مالکیت شرکت

تشبث (شرکت تجارتی و استخراج سایر معادن ودان کتواز) دارنده جواز نمبر (۵۷۲۹۵) و دارنده نمیر تشخیصیه مالیه (۹۰۰۷۱۹۱۳۶۵) به ریاست محترم رضا خان و به معاونیت احسان الله طی یک قطعه عریضه و تصویب مجمع عمومی شرکاء تشبث خواهان تغیر اسم تشبث از (شرکت تجارتی و استخراج سایر معادن ودان کتواز) (شرکت تجارتی ودان کتواز) تغیر می نماید.

بناء اشخاص ، موسسات و دوایر دولتی در مورد اگاهی حاصل نموده از تاریخ نشر اعلان الی مدت ده یوم به معینیت غذا و ادویه افغانستان واقع ده افغانان متصل وزارت مخابرات اطلاع دهند.۳۶۶۵

اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت نوی برادران جمشیدی لمتید یک عراده موتر پلیت ۳-۳۶۳۸۵ ش کابل نوع تیوتا کرولا سالون جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای وحید الله فرزند حکیم داد بفروش رسانیده است.

بناء اشخاص ادارات و موسساتی که با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۳۶۷۵

اعلان مفقودی مهر

یک عدد مهر وکالت گذر ۲ ناحیه یازدهم شاروالی کابل مفقود گردیده از اعتبار ساقط است.۳۶۵۵

اعلان مفقودی

یک جلد کتابچه صفایی مربوط ناحیه ۵ با اسم عصمت الله ولد محمد شاه مفقود گردیده از اعتبار ساقط است.۳۶۵۹

اعلان مفقودی

یک جلد کتابچه صفایی مربوط ناحیه دوم کارته پروان بهارستان به اسم بی بی صبو بنت غلام سخی مفقود گردیده از اعتبارساقط است.۳۶۵۴

اعلان مفقودی

یک قطعه قباله عرفی از دفتر رهنمای معاملات هاشمی جایداد واقع ناحیه هفتم شهر کابل به تاریخ ۱۲/۱۵/ ۱۳۸۳ اخذ شده به اسم نصیر احمد فرزند نورمحمد ولدیت یارمحمد به تاریخ ۱۱/ ۴/ ۱۴۰۵ سرقت گردیده از اعتبار ساقط است.۳۶۴۲

اعلان مفقودی

یک جلد ترجمه انگلیسی تولد کارت به اسم اصیل ولد نور علی و ترجمه انگلیسی تولد کارت به اسم حسینه بنت نور علی مفقود گردیده از اعتبار ساقط است. ۳۶۷۰

دعوت به داوطلبی

عنوان: پروژه اعمار تعمیر مکتب ۳۰ صنفی ذکور شهرک شیخ زاهد

شماره تشخیصیه داوطلبی : MUDH/1405/NCB/W-2113

وزارت شهر سازی و مسکن در نظر دارد تا پروژه اعمار تعمیر مکتب ۳۰ صنفی ذکور شهرک شیخ زاهد را مجدداً به داوطلبی بسپارد.

بناً از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت به عمل می آید تا جهت اخذ شرطنامه به ریاست تدارکات این وزارت تشریف آورده و سافت شرطنامه را اخذ نماید همچنان داوطلبان می توانند به شکل آنلاین از سیستم تدارکات الکترونیکی ریاست تدارکات ملی و ویب سایت وزارت شهرسازی و مسکن دریافت نموده و بعد از خانه پری شرطنامه مطابق شرایط مندرج آن طور سربسته به تاریخ ۱ اسد ۱٤۰۵ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر به ریاست تدارکات وزارت شهرسازی و مسکن واقع در مکروریان سوم، مقابل مطبعه آزادی ناحیه نهم شهر کابل، افغانستان ارایه نماید. آفر های نا وقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی باشد.

نوت: جلسه آفرگشایی به ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر مورخ ۱ اسد ۱٤۰۵ در مسجد شریف صحن وزارت شهرسازی و مسکن تدویر میگردد.

شماره	معیارات ارزیابی	
1	حجم معاملات	حجم معاملات دوسال داوطلب در خلال پنج سال اخیر 71,100,000 هفتاد و یک میلیون و یکصد هزار افغانی می باشد
2	تجربه مشابه	تطبیق و اکمال یک قرارداد مشابه در ده سال اخیر 47,500,000 چهل و هفت میلیون و پنجصد هزار و یا تطبیق و اکمال دو قرارداد مشابه به ارزش 66,600,000 شصت و شش میلیون و ششصدو هزار افغانی می باشد.
3	سرمایه نقدی	14,670,000 چهارده میلیون و ششصدو هفتاد هزار افغانی می باشد.
4	تضمین آفر	مبلغ 1,557,000 یک میلیون و پنجصدو پنجاه و هفت هزار افغانی می باشد.

نوت: (۱) : پول نقد به عنوان تضمین آفر پذیرفته نمیشود.

(۲) : شرطنامه بصورت سافت به داوطلبان توزیع میگردد

سړ کال له بلخ . . .

پرتله، د ۱۴۰۵ کال په لومړۍ ربع کې مو د سیمې هېوادونو ته له ۶۷ میلیونه ډالرو ډېر صادرات کړي، چې له نېکه مرغه په صادراتو کې ۶۷ سلنې زیاتوالی ښیي.»مسؤلین زیاتوي، چې په سوداګریزو راکړو ورکړو کې د اسانتیاو رامنځته کول او د سیمې، په ځانګړې ډول د منځنۍ اسیا له هېوادونو سره د همکاریو د هوکړه لیکونو لاسلیک د دې ودې له مهمو لاملونو دي. د بلخ د سوداګرۍ او پانګونې خونې مرستیال، هارون رشید قاضي وایي: ((دا د هغو هوکړو پایله ده، چې مورږ له ګاونډیو او شریکو هېوادونو لکه ایران، ازبیکستان، قرغیزستان، قزاقستان، ترکیې او هند سره لاسلیک کړي دي.)) بل لور ته د ازبیکستان د سرخان دریا ولایت ځایي مسؤلین وایي، چې د روان زېږیز کال په لومړیو پنځو میاشتو کې ازبیکستان افغانستان ته د ۵۱ میلیونو ډالرو په ارزښت توکي صادر کړي دي.

د دوی په خبره، افغانستان هم په همدې موده کې ازبیکستان ته د ۸۱ میلیونه ډالرو په ارزښت له ۲۰۰ ډوله ډېر توکي صادر کړي دي. د اسیایي هېوادونو په چارو کې د ازبیکستان د سرخان دریا د والي سلاکار په دې اړه وایي: «زمونږ تولیدوونکو د روان زېږیز کال په لومړیو پنځو میاشتو کې افغانستان ته د ۵۱ میلیونه ډالرو په ارزښت صادرات کړي، چې له ۱۶۶ ډوله تولیدات پکې شامل دي. همدارنګه، مورږ له افغانستانه د ۸۱ میلیونه ډالرو په ارزښت له ۲۰۰ ډولو ډېر بېلابېل توکي را وارد کړي دي.» سوداګر د منځنۍ اسیا لار د افغانستان د سوداګرۍ لپاره تر ټولو خوندي او ډاډمنه بولي. دوی د صادراتي توکو د ګمرکي تعرفو د کمښت یا معافیت، د نندارتونونو د جوړېدو او په بهرنیو هېوادونو کې د افغان تولیداتو لپاره د نویو بازارونو د رامنځته کېدو غوښتنه کوي.سوداګر، محمد پوپل و ویل: «لومړی دې زموږ پر صادراتي توکو تعرفې لیرې شي، دویم دې زموږ د محصولاتو لپاره بازارموندنه وشي او همداراز دې زموږ سوداګرو ته له بهرنیو سوداګرو سره د مخامخ غونډو او کنفرانسونو زمینه برابره شي، څو له هغوی سره په مستقیم ډول قراردادونه وکړي.»د یادونې ده چې افغانستان په وروستیو کلونو کې له منځنۍ اسیا هېوادونو سره د سوداګرۍ د پراختیا لپاره د اقتصادي اړیکو پر پیاوړتیا، د سوداګریزو راکړو ورکړو پر اسانتیا او د شمال له لارې د صادراتو پر زیاتوالي تمرکز کړی دی.

د افغانستان، ایران . . .

غونډه کې ګډون وکړ.

سرچینه زیاتوي، یاده غونډه چې د ایران په مشهد ښار کې د درېیو وارو هېوادونو ترمنځ د ټرانزېټي همکاریو د پراختیا او د ټرانسپورتي اړیکو د پیاوړتیا په موخه جوړه شوې وه او د ځمکنۍ ټرانسپورټ برخه کې د همکاریو پراختیا او یو شمېر نورو اړوندو موضوعاتو په اړه پکې خبرې وشوې. یاد وزارت لیکلي، په دې غونډه کې هوکړه وشوه څو د افغانستان، ایران او تاجکستان ترمنځ د ځمکنۍ ټرانسپورټ دریځ اړخیز دهلیز رامنځته شي او د دې هوکړې له مخې، ښایي د ایران او تاجکستان له لارې سوداګریز توکي د افغانستان له لارې نورو هېوادونو ته ټرانزېټ او ولېږدول شي.

افغانستان او برونای . . .

زیاتې شي.

په غونډه کې د سوداګرۍ، پانګونې، لومړو زده‌کړو، علمي تبادلو او فرهنګي اړیکو د پراختیا امکانات هم ارزول شوي او دواړو لوریو د اړیکو د دوام، د متقابلو پلاوو د تک راتک او د ګډو پروګرامونو د تنظیم په اړه خپل چمتووالی څرګند کړی دی. همدارنګه د دواړو هېوادونو ترمنځ د ډیپلوماټیکو اړیکو د لا فعالېدو او د اقتصادي فرصتونو د رامنځته کولو پر اهمیت هم ټینګار شوی دی.

برونای دارالسلام د سوېل ختیځ اسیا یو اسلامي هېواد دی چې د بورنیو ټاپو په شمال کې موقعیت لري او له مالیزیا سره ګډه پوله لري. د دغه هېواد پلازمېنه بندر سري بګاوان ده او د ټبلو او طبیعي ګازو د پراخو زېرمو له امله د سیمې له شتمنو هېوادونو څخه ګڼل کېږي. برونای د لوړې اقتصادي ودې، پرمختللو عامه خدمتونو او د ژوند د ښه معیار له امله خانګړی ځای لري. افغانستان او برونای دارالسلام دواړه د اسلامي همکاریو سازمان (OIC) غړي هېوادونه دي او د اسلامي نړۍ په چوکات کې ګډ ارزښتونه او ګډې ګټې لري. شنونکي باور لري چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د سیاسي او اقتصادي اړیکو پراختیا، د سوداګرۍ، پانګونې، لوړو زده‌کړو او فرهنګي همکاریو لپاره نوي فرصتونه رامنځته کولای شي او د اسلامي هېوادونو ترمنځ د متقابلو همکاریو د پیاوړتیا په برخه کې به مثبت اغېز ولري.

برېتانیا په راتلونکو . . .

بستو څخه یو پاتې شي، چې هم د اړتیا کچه او هم زمونږ دوامداره ژمنتیا څرګندوي.»ده ویلي ، چې دغه مرستې به د روغتیایي او تغذیوي خدماتو، د زده‌کړو د ملاتړ، د زیان‌منو کسانو د ساتنې او د معیشت د پیاوړتیا او د اقلیمي بدلونونو پر وړاندې د مقاومت لوړولو برخو کې ولګېږي.

د زابل مسئولینو . . .

لپاره د همغږۍ او ګډ کار پر دوام ټینګار کړی دی.د عامې روغتیا وزیر د یادو مسئولینو د خبرو په اوږدو سره؛ د زابل د روغتیایي وضعیت ښه والي په موخه د همکارۍ او لازمې پاملرنې ډاډ ورکړی دی. پرمختللو عامه خدمتونو او د ژوند د ښه معیار له امله خانګړی ځای لري. افغانستان او برونای دارالسلام دواړه د اسلامي همکاریو سازمان (OIC) غړي هېوادونه دي او د اسلامي نړۍ په چوکات کې ګډ ارزښتونه او ګډې ګټې لري. شنونکي باور لري چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د سیاسي او اقتصادي اړیکو پراختیا، د سوداګرۍ، پانګونې، لوړو زده‌کړو او فرهنګي همکاریو لپاره نوي فرصتونه رامنځته کولای شي او د اسلامي هېوادونو ترمنځ د متقابلو همکاریو د پیاوړتیا په برخه کې به مثبت اغېز ولري.

تورهان صالح . . .

دنده ترسره کړې ده.

د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام زیاته کړې، چې تورهان صالح په ۱۹۹۷ کال کې د پالیسۍ د سلاکار په توګه له دغه بنسټ سره یوځای شوی او له هغه راهیسې یې د دغه سازمان په بېلابېلو برخو کې ګڼې لوړې دندې ترسره کړې دي؛ له هغې ډلې د زریزې پراختیایي موخو د څانګې مشر، د ملګرو ملتونو د چارو د څانګې مرستیال، په نایجریا کې سرپرست مشر او استوګن استازی، د افریقا سیمه‌ییز دفتر د هېوادونو د ملاتړ د ډلې مشر او په اجرائیه دفتر کې د ستراتیژیک پلان همغږی‌کوونکی پاتې شوی دی.

د دغه بنسټ په وینا، صالح د خپل کاري ژوند په اوږدو کې د UNDP له څلورو مدیرانو سره کار کړی او د دغه سازمان د نړۍ ټولو ستراتیژیکو پروګرامونو په جوړولو کې یې، د هغو د رامنځته کېدو له پیله، ونډه اخیستې ده. د خبرپانې له مخې، نومورې له لوړو زده‌کړو وروسته په ۱۹۸۹ کال کې د یونیسف له لارې د ملګرو ملتونو په سیستم کې خپله دنده پیل کړه او په غنا، اریتریا او سویلي افریقا کې یې بېلابېلې دندې ترسره کړې دي. هغه همدارنګه په یونیسف، نړیوال بانک او د ملګرو ملتونو د خورو نړیوالې شورا کې ټرینې دورې هم بشپړې کړې دي.

بلخ کې د کشندې . . .

د آق‌کپرک له سیمې څخه پیل کېږي او د بلخ ولایت د شولګرې ولسوالۍ د پل برق تر سیمې پورې غځېږي، او په دې پروژه کې دوه پلونه، ۳۲ پلکوتي شامل دي. د ټولګټو وزارت همداراز لیکلي چې د کشندې - پل برق سړک د بلخ ولایت له مهمو مواصلاتي لارو څخه شمېرل کېږي چې د بلخ ولایت د کشندې او زارع ولسوالیو، او همدارنګه د سرپل ولایت د ګوسفندي او بلخاب ولسوالیو د اوسېدونکو په تګ راتګ کې مهم رول لري.

ننګرهار د واټ . . .

وایي، د دغو پروژو په پلي کېدو سره به د جلال‌آباد ښار ټرانسپورتي نظم لا پیاوړی شي، ترافیکي ګنې‌ګونې به راکمې شي او مسافرو او موټرچلوونکو ته به معیاري، خوندي او غوره ټرانسپورتي چوپړونه وړاندې شي.

Hewad Daily

د ورځپاڼو رئیس: انجنیرعُزیر بریالی
آمر او مسئول مدیر: محمد قاسم عزام
مسئول سکرتر: شېرمحمد نظري
ډیزاینر: مایار
د ویبپاڼې مدیر : ګل ولي افغانیار
چاپ پته: مطبعه صنعتی احمد صمدی - چهار راهی صدارت - بلال مارکیت
پتـه: اتمه ناحیـه د حضوري چمن ختیځ-کابـل

بریښنایی بڼه
www.hewaddaily.com
info@hewaddaily.com
020-2526340
0766490049

اسعـــارو بیعـــه

یو ډالـر	٦٥.٧٥ افـ
یـو یـورو	٧٥.٣٠ افـ
یـو پونـډ	٨٦.٤٠ افـ
یـو درهم	١٧.٩٠ افـ
زر ریـــال	٠٣٦.٠٣٥ افـ
زر کلداري	٢٣٠.٢٢٩ افـ
زر کلداري	٧٥٥.٧٤٥ افـ

د هـــوا حـالات

	کابل	هرات	مزار شریف	کندهار	هلمند	فراه	غزنـی
	٣٦°C	٣٦°C	٤٦°C	٤٣°C	٤٦°C	٤٦°C	٣٤°C
٠٤:٤٠							٠٧:٠٨

شیخ الحدیث محمد خالد حنفي:

که علما، مطبوعات او قومي مخور یو موټی شي د اسلام دښمنان به د مداخلې فرصت ونه مومي

د افغانستان اسلامي امارت
د امربالمعروف، نهی عن المنکر
او شکایتونو اورېدلو وزارت
وزارت امربالمعروف، نهی
عن المنکر وسمع شکایات

د امربالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو اورېدلو وزارت د ځینو ولایتونو لـه قومي مخورو، علمـاوو او د مطبوعاتو له مسؤلینو سره د همغږۍ ناسـته وکړه. په دې ناسته کې یاد وزارت له کډونوالو د یو موټي کېدو غوښتنه وکړه او ویې ویل، که دا درې قشـرونه سره یو شي، نو د اسلام دښمنان به نه درز پیدا کړای شـي او نه به د مداخلې فرصـت ومومي. بلخوا، راغلو علماوو، قومي مخورو او د مطبوعاتو مسـؤلینو د خپلو وړاندیزونو تر وړاندې کولو وروسته، یاد وزارت ته د همکارۍ ډاډ ورکړ او ویې ویل، چې د نېکۍ امر او له بدۍ منع یوازې د یوې اداري نه، بلکې د ټولنې د هر وګړي ګډ مسؤلیت دی. د یاد وزارت وزیر، شیخ الحدیث محمد خالد حنفي، وویل، چې په افغانستان کې شاوخوا نیمه پېړۍ د هېواد دښمنانو پر فتنې او فساد کار کړی او د هغو له منځه وړل هم وخت ته ارتیا لري. د ده په وینا، د اصلاح بهیر په تدریجي ډول روان دی. نوموړي له مطبوعاتو، علماوو او قومي مخورو. . .

۲مخ

ننګرهار د وات ټرانسپورټ ریاست لپاره د ښاري ترمینلونو د ځمکو د لېږد چارې بشپړې شوې

د امارتي شرکتونو لوی ریاست ویلي، د ننګرهار وادي کرنیز امارتي شرکت څخه د ننګرهار د وات ټرانسـپورټ د تنظیم ریاسـت ته د معیاري ښاري ترمینلونـو د جوړولـو لپـاره د دوو مناسـبو ټوټو ځمکو د لېـږد چارې بشپړې شـوې دي. په همدې موخه د ننګرهار وادي کرنیز امارتي شرکت د اجرائیوي رئیس، سید محمد نعیم محمدي په مشـرۍ غونډه شـوې، چې د ننګرهار د وات ټرانسـپورټ د تنظیم رئیس، مـلا انعام الله انعام او د اطلاعاتو او فرهنګ رئیس، مولوي ذبیـح اللـه نوراني هـم پکې ګډون درلود.

غونډې ته ویناوالـو ددې پروژې پر اهمیـت ټینګار وکـړ او ویې ویل: د معیاري ښـاري ترمینلونو جوړول به د ټرانسـپورتي خدمتونو کیفیت لوړ، ښاري نظم پیاوړی او عامو خلکو ته به لا ډېرې اسانتیاوې برابرې کړي.

د

معلوماتـو له مخـې، له دغـو دوو سـاحو څخه یوه د جلال‌آباد ښـار د حلقوي سـرک ترڅنګ د سیاسـنګ څلورلارې په سـیمه او بله د مولوي محمد یونس خالـص فامیلیو اړوند د ټوپل څلـورلارې ته نږدې موقعیت لري. پـه همدې غونډه کې د ننګرهار وادي کرنیز امارتي شـرکت اړوند د خنګل باغ په سـیمه کې د شـاوخوا ۲۶ جریبه ځمکې د قرارداد اسـناد، چې د کابل موټرو هډه به پرې جوړه شي، په رسـمي ډول د یاد شرکت د اجرائیوي رئیس له لورې د ننګرهار د وات ټرانسـپورټ د تنظیم ریاست له وسپارل شول.

همدارنګـه ټـاکل شـوې، چـې د ټرانسـپورټ او هوایي چلند وزارت له لورې په همدې ساحه کې د ۲۱۵ میلیونه افغانیو په ارزښت یو معیاري، عصري او مجهز مسـافربري ترمینل هم جوړ شي. مسئولین . . .

۳مخ

د خوست په تنیو ولسوالی کې د یوه عمومي روغتون د بنسټ ډبره کېښودل شوه

د عامـې روغتیـا وزارت د روغتیایـي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال مولوي عبدالولي حقاني، خوسـت ته د خپل سـفر په ترڅ کې د دغـه ولایت په تنیو ولسـوالی کې ۵۰ میلیونـه افغانیو په لګښت د یوه عمومي روغتون د بنسټ ډبره کېښوده. په همدې مناسبت جوړو شـویو مراسـمو کې مولوي عبدالولي حقاني او ورسره مل پلاوي، د خوست د عامې روغتیا رئیس، د ولایتي ادارو یو شمېر مسـؤلینو او قومي مشرانو ګډون کړی و.

د عامې روغتیا وزارت مسـؤلین وایي، چې د دغه روغتون د جوړېدو لپاره پنځه جریبه ځمکه خانګړې شـوې او ټاکل شوې ده، چې دغه . . .

۲مخ

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزیر ننګرهار ولایت ته په سفر تللی

د افغانسـتان اسلامي امارت د کلیو د بیارغونـې او پراختیـا وزیـر ملا عبداللطیـف منصـور، د ننګرهار د والي لـه مرسـتیال مولوي غلام الرحمن حیدري سره کتلي دي.

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د معلوماتو له مخې؛ په دې کتنه کې د ننګرهار د والي مرسـتیال په دغه ولایت کې د پراختیایي پروژو په اړه معلومات ورکـړي او ویلي یې دي، چـې د کلیو د بیارغونـې او پراختیا وزارت تـل د یاد ولایـت خلکو ته پاملرنه او سـتونزو تـه یې پر وخت رسېدنه کړې ده . . .

۲مخ

ملګري ملتونه په بامیان کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو ملاتړ ته دوام ورکوي

په افغانسـتان کـې د ملګـرو ملتونو د سرمنشـي خانګـړي اسـتازي او د پراختیایـي چـارو مرسـتیال برونو لمارکیس په مشرۍ د ملګرو ملتونو یوه پلاوي د بامیان د تخنیکي او مسـلکي زده‌کـړو له آمر سـره لیدنـه او خبرې وکړې. په دې لیدنه کـې د تخنیکي او مسلکي زده‌کړو د مرکزونو، په خانګړې توګه د بامیان د خانګړو زده‌کړو لپسـې د وضعیـت او د زده‌کوونکـو د ارتیاوو په اړه بحث او د نظرونو تبادله شـول او د ملګرو ملتونو پلاوي د ښـوونیزو او بشـرۍ ارتیاوو د پوره کولو لپاره د خپلو همکاریو پر دوام ټینګار وکړ. د لیدنې په دوام د بامیان د تخنیکي او مسـلکي زده‌کړو آمر له نړیوالو بنسټونو وغوښتل، چې د بنسـټیزو پروژو د بشـپړولو، د ښـوونیزو مرکزونو د ملاتړ، د تخنیکي او مسـلکي زده‌کړو د پراختیا، د برېښنا او ودانیزو ځانګـو د تجهیز او خوانانو یادونـې وړ ده، چـې یاد پـلاوی به د خپل سـفر په دوام د بامیان د تخنیکي او مسـلکي زده‌کـړو آمریت د پنجاب او ورس ولسـوالیو کې د اړوندو پروژو

تـه د کاري فرصتونو د برابرولو په برخو کې خپلـې همکارۍ پراخـې کړې. د ښـوونیزو مرکزونو ځخه هم لیدنې وکړې.

نیمروز کې د څه باندې دوه ټنه درملو او غیرخوراکي توکو د قاچاق مخه ونیول شوه

د نیمـروز د فرعي ګمرکاتو ریاسـت مسـؤلین وایي، چې د یـاد ولایت د چهاربرجک ولسـوالی اړوند په ډک سـیمه کې د څه باندې دوه ټنه انساني درملو او غیرخوراکي توکو د قاچاق مخه نیول شوې ده. د نیمروز د فرعي ګمرکاتو رئیس مولوي عبدالغفار محمود باختر اطلاعاتي اژانس ته ویلي، چې یوتن او ۷۴۵ کیلوګرامه انساني درمل او ۳۲۶ کیلوګرامـه غیرخوراکي توکي، چې په دوو باروړونکـو موټرو کـې خای پر خای شوي وو او غوښتل یې له پاکستان ځخه نیمروز ته قاچاق شي، د کمرکي مسؤلینو له لورې کشف او ضبط شول.

د نومورې په وینا، د یادو قاچاقي توکو په ټراو تر اوسه ځوک نه دي نیول شوي او نیول شـوي توکي او موټر د قانوني اجراااتـو لپاره اړوندو ادارو ته سـپارل شـوي دي. د نیمروز فرعـي ګمرکاتو مسـؤلینو ټینګار کړی، چې د قاچاق مخنیوي او د غیرقانوني توکو پر وړاندې به خپلې هڅې لا پیاوړې کړي، ځو د خلکو روغتیا او اقتصادي ګټې خوندي وساتل شي. د یادونې وړ ده، چې په دې وروستیو کې د نیمروز په بېلابېلو سیمو کې د انسـاني درملو او نورو قاچاقي توکو د لېږد کنې هڅې شـندې شوې دي.

بدخشان کې د نړۍ ۴ میلیونه افغانیو په لګښت د دوو پروژو چارې بشپړې شوې

د بدخشـان د کرنـې، اوبولګولـو او مالداری ریاسـت مسؤلین وایي، چې د شـهدا ولسـوالی په وینج کلي کې د ۳.۶ میلیونـه افغانیو په لګښـت یو کانال او اسـتنادي دېوال جوړ او کټې اخیستنې ته وسپارل شو. د یاد ریاست د پـلان او همغـږۍ عمومـي مدیر کیکاوس تکسـاري باختر اطلاعاتي اژانس ته ویلي، چـې دغه پروژې د د دغه ریاست د طبیعي سرچینو آمریت په همغږۍ د «مېشن ایست» مؤسسې له لورې پلې شـوې دي. د نومورې په وینا، په دې پروژو کې د «کورخودره» کرنیز کانال د شپږ کیلومتره په اوږدوالي او همدارنکـه د ۱.۴ میلیونه افغانیو په لګښت د یو اسـتنادي دېوال جوړول شـامل دي. تکساري زیاته کړه، چې د دغو پروژو په بشپړېدو سره به شاوخوا ۲۰۰ کورنۍ په مستقیم ډول تري ګټه واخلي، نړۍ دوه زره هکټاره کرنیزې ځمکې او باغونـه به خړوب او د اوبو د کمښت ستونزه به تر ډېره هواره شي. د یادونـې وړ ده، چـې د بدخشـان ولایت په بېلابېلو ولسوالیو کې د کرنې د ودې، د اوبـو د مدیریت او د بزګرانو اقتصادي وضعیت د ښه والي په موخه ورته پراختیایي نورې پروژې هم تر کار لاندې دي.

بهرني لنډ خبرونه

ابراهیم ذوالفقاري:

که امریکا د ایران زیربناوې په نښه کړي، د سیمې ټولې زیربناوې به هدف وګرځوو

د فـارس خبـرې آژانـس د راپـور لـه مخـې، د ایـران د خاتم‌الانبیـاء مرکـزي قـرارګاه ویانـد (جنـرال ابراهیـم ذوالفقـاري) خبـرداری ورکـړی، چـې کـه امریـکا د ایـران د زیربنـاوو د پـه نښـه کولـو ګواښـونه عملـي کـړي، ایـران بـه د سـیمې مهمـې زیربنـاوې هـدف وګرځوي.ذوالفقـاري ویلـي: د ایـران وسـله‌وال خواکونـه د هـر ډول احتمالـي بریـد پـر وړانـدې د ځـواب ورکولـو بشـپړ چمتووالـی لـري او د ارتیـا پـه صـورت کـې بـه د سـیمې پـر زیربنـاوو سـخت بریدونـه ترسـره کړي.نومـورې ټینګـار کـړی، چـې د ایـران هـر ډول پوځـي غبرګـون بـه د هېـواد د ملـي امنیـت او دفاعـي ارتیـاوو پـر بنسـټ وي.

د چین ولسمشر:

چین به د مصنوعي ځیرکتیا د نوي نړیوال نظم مشري وکړي



د چیـن ولسمشـر شـي جین‌پینـګ د شـانګهای د مصنوعـي ځیرکتیـا نړیـوال کنفرانـس د پرانیسـتې پـر مهـال ویلـي، چـې هېـواد بـه یـې د مصنوعـي ځیرکتیـا د نـوي نړیـوال نظـم پـه رامنځتـه کولـو کـې مخکـښ رول ولوبـوي او د دې ټکنالوجـي د پرانیسـتې سـرچینې د پراختیـا ملاتـړ بـه وکـړي.د رویټـرز د راپـور لـه مخـې، شـي جین‌پینـګ پـه دغـه کنفرانـس کـې لـه هېوادونـو وغوښـتل، چـې د پرانیسـتې سـرچینې مصنوعـي ځیرکتیـا د پراختیـا لـه فرصتونـو ګټـه واخلـي.ده زیاتـه کـړې، چـې چیـن بـه لـه مـخ پـر ودې هېوادونـو سـره د مصنوعـي ځیرکتیـا د ظرفیتونـو پـه پیاوړتیـا کـې مرسـته وکړي.رویټـرز لیکلـي چـې د چیـن ولسمشـر مصنوعـي ځیرکتیـا د بخـار ماشـین او برېښنـا د اختـراع پـه کچـه یـوه مهمـه ټکنالوجیکـي لاسـته‌راوړنه بللـې . . .

۲مخ

امریکا د بهرنیو محصلینو او خبریالانو د استوګنې موده محدودوي



د ډونالـډ ټرمـپ حکومـت نـوي مقـررات تصویـب کـړي چـې لـه مخـې یـې پـه متحـده ایالتونـو کـې د بهرنیـو محصلانـو، د کلتـوري تبادلـې پروګرامونـو د ګډونوالـو او بهرنیـو خبریالانـو د اسـتوګنې مـوده محدودېږي.رویټـرز راپـور ورکـړی چـې د امریـکا د کورنـي امنیـت وزارت د وروسـتیو مقرراتـو لـه مخـې، د بهرنیـو محصلانـو لپـاره د F ویـزې او د کلتـوري تبادلـې پروګرامونـو د ګډونوالـو لپـاره د J ویـزې لرونکـو تـه بـه پـه ډېـرې مـواردو کـې تـر څلـورو کلونـو پـورې د اسـتوګنې اجـازه ورکـول کېـږي. همدارنګـه، د I ویـزې لرونکـي بهرنـي خبریـالان بـه پـه عـادي ډول یـوازې د ۲۴۰ ورځـو لپـاره د اسـتوګنې اجـازه ولري.رویټـرز لیکلـي چـې د نـوو مقراتـو لـه مخـې، د چینـي خبریالانـو د اسـتوګنې مـوده ۹۰ ورځـو تـه محـدوده . . .

۲مخ